# د حامله ښځو لپاره د انفلونزا واکسین

*انفلونزا په حامله ښځوکې هغومره عام ده څومره چې په نورو ښځوکې ده، مګر حامله ښځې د شدید ناروغۍ لوړ خطر سره مخ دي. که چیرې مور شدید ناروغه شي، دا جنین د خطر سره مخ کوي. د حامله ښځو لپاره واکسین مور او ماشوم دواړه ژغوري.*

**د حامله ښځو لپاره سپارښتنې**
په 2ام او 3ام دریې میاشتنیو کې حامله ښځو ته مشوره ورکول کیږي چې د انفلونزا موسم د پیل کیدو نه مخکې واکسین وکړي.
په 1 لومړي دریې میاشتنیو کې حامله ښځو ته هم مشوره ورکول کیږي چې واکسین وکړي که چیرې په بل خطر ګروپ پورې تړاو لري.

سپارښتنه د انفلونزا موسم (منۍ او ژمی) په تړاو ده.

**د میندو ژغورل**
مطالعات ښئ چې د انفلونزا واکسین حامله ښځو لپاره هغومره خوندیتوب وړاندې کوي لکه څومره چې د نورو سالم لویانو خلکو لپاره وړاندې کوي.

**د ماشوم ژغورل**
تنکي ماشومان د لوی ماشومانو او لویانو پرتله د شدید انفلونزا لوی خطر سره مخ دي. که چیرې مور د حمل پرمهال واکسین شي، نو د هغې ماشوم به د زیږون وروسته د لومړیو شپږ میاشتو لپاره خوندي وي. د حمل پرمهال د انفلونزا واکسین کول د جنین ضایع کیدو، یې موده زیږون یا جنین ته د زیان رسیدو خطر نه ډیروي.

**د انفلونزا واکسین په اړه**
د حامله ښځو لپاره سپارښتنه شوي د انفلونزا واکسین یوه دوز کې ورکول کیږي او یوازې د انفلونزا ویروس کوچنۍ برخې، مالګه او اوبه لري. واکسین د انفلونزا ناروغۍ نه لامل کیږي.
د انفلونزا واکسین د کرونا ویروس (کوویډ – 19) یا نورو ویروسونو او انفلونزا ته ورته علایمو لامل کیدونکي باکتریا پروړاندې محافظت نه کوي.

NIPH
Norwegian Institute of Public Health

**جانبي عوارض**

عام جانبي عوارض يې د ستني کولو ځای شاوخوا نرمیدل، سوروالی او پړسوب دي، او همدارنګه د عضلاتو درد. د انفلونزا واکسین وروسته جدي جانبي عوارض او الرژي غبرګونونه ډیر په ندرت سره پیښیږي.

**زه څنګه د انفلونزا واکسین وکړم؟**

د خپلې قابله، ډاکټر سره یا د ښاروالی ویب سایټ وګورئ.

**نور معلومات**

د انفلونزا او واکسین په اړه نور معلومات دلته موجود دي
[https://www.fhi.no/en/id/influensa/seasonal-influenza/](https://www.fhi.no/en/id/influensa/seasonal-influenza/)